# إِنَّ مِنْ شِرَارِ النَّاسِ مَنْ تُدْرِكُهُ السَّاعَةُ وَهُمْ أَحْيَاءٌ، وَمَنْ يَتَّخِذُ الْقُبُورَ مَسَاجِدَ». «له خلكو څخه تر ټولو بد هغه دي چې قيامت پرې راشي او هغوی ژوندي وي، او هغه خلک چې له قبرونو څخه يې جوماتونه جوړ کړي دي

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اورېدلي چې ویيل يې: «إِنَّ مِنْ شِرَارِ النَّاسِ مَنْ تُدْرِكُهُ السَّاعَةُ وَهُمْ أَحْيَاءٌ، وَمَنْ يَتَّخِذُ الْقُبُورَ مَسَاجِدَ». «له خلكو څخه تر ټولو بد هغه دي چې قيامت پرې راشي او هغوی ژوندي وي، او هغه خلک چې له قبرونو څخه يې جوماتونه جوړ کړي دي».

[حسن] [احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د بدو خلکو په اړه خبر ورکوي چې دوی هغه خلک دي چې قيامت پرې قايم شي او دوی ژوندي وي، او هغه خلک چې له قبرونو څخه يې جوماتونه جوړ کړي وي، د قبرونو تر څنګ او يا يې لورې ته لمونځونه کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3375